## ثبات او د سولې ټینګښت
## د ډیموکراتیکه حاکمیت پیاوړي کول
## د بیوزلۍ کمول او د معیشتونو زیاتول

د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتیژۍ کې طرحه شویو هدفونو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پر مختیایی پروګرام د مرستې لپاره بنسټ برابروي او د ملګرو ملتونو پر مختیایی پروګرام د حکومت سره یوځای کار کړی ترڅو مهمې برخې وټاکي چیرته چې پروګرام کولای شی کوم مثبت بدلون رامنځته کړي. د تمویل کوونکو هیوادونو په مرسته، مونږ لازمه پالیسي او تخنیکی مشوره برابره کړې ده او د افغانستان د دولتي موسساتو، د پولیسو او محلي ټولنو د ظرفیت په وده کې مو مهمې لاسته راوړنې تر لاسه کړي دي.

مونږ د افغانستان د ټاکنیزه مؤسساتو سره یوځای کار کړی دی ترڅو په ۲۰۱۰م کال کې د افغانانو په مشرۍ لومړنۍ ټاکنې ترسره کړو. مونږ د ولایتي شورا هر غړي ته د هغوی د دندو او مسؤلیتونو په برخه کې زده کړه ورکړې ده ترڅو د سیمې په کچه ښه کنترول ولري. مونږ محلی ښاریانو سره مرسته کړې ده ترڅو د ولسوالۍ پرمختیایي شوراګانې څه نا څه د هیواد په هره ولسوالۍ کې جوړې کړي، او د ټولنې اوسیدونکي وکړای شی داسې پروژې وټاکي ترڅو د هغوی ټولنو ته زیاته ګټه ورسوي. مونږ د ۱۲۰ نه په زیاتو ولسوالیو کې د ناقانونه وسله والو ډلو په منحلولو کې مرسته کړې ده.

## د ملګرو ملتونو پر مختیایی پروګرام (UNDP)

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام خپله زیاته پاملرنه د مرستې دریو برخو ته اړولې ده: د بحران مخنیوی او بیا لاسته راوړنه، ډیموکراټیکه حاکمیت، او د بیوزلۍ کمول. په دغو ټولو برخو کې پروژې په څلورو ګروپونو باندې ویشل کیږي کوم چې په دغو لاندې برخو کې ګډې هڅې رامنځته کوي: د ظرفیت وده، جندر، محلی تطبیق او د قانون حاکمیت.





د ملګرو ملتونو پر مختیایی پروګرام (UNDP) د ملګرو ملتونو یوه نړیواله پرمختیایی شبکه او سازمان دی چې د مثبتو بدلونو څخه ملاتړکوي او د نړۍ هیوادونه د پوهې، تجربې او منابعو سره نښلوي ترڅو د خلکو سره د ښه ژوند په ودانولو کې مرسته وکړي. مونږ د نړۍ په ۱۶۶ هیوادونو کې حضور لرو، د هغوی سره د هغوی د حل د لارې، د نړیوالې حل د لارې او د پرمختیایی خنډونو د لیرې کولو په برخه کې کار کوو. کله چې دغه هیوادونه خپلو محلي ظرفیتونو ته پراختیا ورکوي، نو هغوی د ملګرو ملتونو د پر مختیایی پروګرام (UNDP) او زمونږ د همکارو موسسو د کارکوونکو د مهارتونو څخه استفاده کوي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام په نړۍ کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام (UNDP) یو ډیر لوی پروګرام دی. د خپلو ۲۴ تمویل کوونکو هیوادونو په ملاتړ سره به مونږ د افغانستان د خلکو او حکومت سره یوځای کار وکړو، د ډاډمنتیا او ناپیلتوب اړیکې به پیاوړي او د هغوی څخه به ګټه پورته کړو. ملت او تمویل کوونکي هیوادونو به په دغه برخه کې زمونږ د کارڅخه ډیره زیاته ګټه پورته کړي، او همدا رنګه زمونږ کار به یو غښتلی بنسټ د افغانستان د راتلونکو کلونو لپاره جوړ کړي.

افغانستان

پته او د اړیکو شمیره


د ملګرو ملتونو پر مختیایی پروګرام (UNDP)
شاه محمود غازی واټ
کابل، افغانستان
تیلیفون: 93+ (0) 20 212 4000
فکس: 870+ 763 468 836 / + 44 20 335 79038
www.undp.org.af

د زیاتو مالوماتو لپاره: د دغې پتې سره اړیکه ونیسی :
communication.af@undp.org




# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پر مختیایی پروګرام (UNDP)

د بیوزلۍ کمول
د بشري امنیت پراخول
د تل پاتې معیشتونو هڅول



## د ملګرو ملتونو پر مختیایی پروګرام (UNDP) په افغانستان کې خپله زیاته پاملرنه د حل او اوږدمهالې اوپرمختیایي لارې خواته اړوي.

د ملګرو ملتونو پر مختیایی پروګرام (UNDP) د ۵۰ کالو څخه زیات په افغانستان کې حضور لري، د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د بحران د لیرې کولو او د سولې د ټینګښت لپاره فعالیت کوي. د دغو کلونو په اوږدو کې، زمونږ ماموریت فزیکی او مؤسساتی تأسیسات ودان، بیا رغول او اصلاح کړي دي. خو اوسنی شرایط یو له هغو خنډونو څخه دی چې مونږ په افغانستان کې ورسره مخ شوي یو:

### په افغانستان کې:

- د نفوس دریمه برخه خلک د بیوزلۍ دکرښې څخه کښته ژوند کوي،
- څه نا څه د هیواد نیمایي برخه د جدي امنیتي خطرونو سره مخ ده،
- د ښځینه و لپاره د سواد د زده کړې اندازه یوازې په سلو کې ۱۴ ده.

د امنیت کموالی، د قانون کمزورۍ ټینګښت او همدارنګه کمزوري تأسیسات د دې لامل ګرځیدلي چې د دولتی موسساتو توان د ثبات او اوږد مهالې پراختیا په برابرولو کې محدود کړي. د ملګرو ملتونو پر مختیایی پروګرام (UNDP) د حکومت سره یوځای کار کوي ترڅو محلي ظرفیت ته وده ورکړي او د افغانستان لپاره د حل افغانی لاره برابره کړي.

## د بحران مخنیوی او بیا لاسته راوړنه

په هیواد کې زیاتیدونکی یاغیتوب او نا امني د افغانستان د خلکو او نړیوالې ټولنې لپاره د اندیښنې یو عامل دی. اوس مهال، څه نا څه په سلوکې ۵۰ ولسوالۍ د خطرناکه او د ډیره خطرناکه ولسوالیو په توګه په نظر کې نیول کیږي.

د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام د بحران د مخنیوي او بیا لاسته راوړنې زیارونو د حکومت سره مرسته کړې ده چې د امنیت، د بیوسلو کولو، د تریاکو، او د طبعی ناخوالو د کمولو مسایل اوار او همدارنګه د سولې او په ټولنه کې د پخوانیو ناراضیانو د بیا یوځای کیدو په برخه کې مهم کوښښونه پیل کړي. د نظم او قانون د پولي صندوق له لارې، مونږ د پولیسو معاشونه او اداره تمویلوو، او د پولیسو په ځواکونو کې د ډاډمنې فضا په راوستلو کې مرسته کوو.

- د الکترونیکی تأدیې د سکیجونو معرفی کول د ۱۱۹۰۰۰ تنو پولیسو د معاشونو د روښانه تأدیې لپاره (د پولیسو د ټولو ځواکونو له ډلې څخه ٪۹۹،۹)،
- د عامه خلکو او پولیسو ترمنځ اړیکو ته پراختیا ورکول (په ازمیښتي سیموکې د پیښو په راپور ورکولو کې ۷۰-۵۰ ٪ زیاتوالی)
- د پولیسو په ځواکونو کې د څه ناڅه ۱۰۰۰ تنو ښځو د ګمارلو پر بنسټ د جندر انډول زیات شوی.

### د بحران د مخنوي او لاسته راوړنې په برخه کې مهمې پروژې:

- د نظم او قانون پولي صندوق (LOTFA) چې د اروپایي ټولنې، د آسترلیا، کانادا، د چک جمهوریت، دنمارک، فنلند، جرمنی، آیسلند، ایتالیې، جاپان، لاتویا، هالند، ناروی، سویتزرلند، برطانیې او امریکې د حکومتونو له خوا تمویلیږي.
- د افغانستان د سولې د ټینګښت او بیا میشته کولو پروژه (APRP) چې د دنمارک، جرمنی، ایتالیې، او جاپان د حکومتونو له خوا تمویلیږي.

د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام د ناقانونه وسله والو ډلو د بیوسلو کولو پروګرام (DIAG) کار کوي ترڅو د ناقانونه وسله والو ډلو د بیوسله کولو او په ټولنه کې د پخوانیو سرتیرو د بیا میشته کولو په برخه کې مرسته وکړي. جګړه مارو خلکو ته بیلابیلې تشویقی مرستې د کاري فرصتونو په شمول وړاندې کیږي ترڅو د پروګرام سره یوځای شي او د مرستندویه پروژو لکه په نورو معیشتونو کې د زده کړې، د چرګانو او څارویو د روزنې څخه ګټه واخلي. د دغه پروګرام په ترڅ کې، پخوانې جګړه ماران کولای شی چې په ټاکنوکې د دولتي پستونو د لاسته راوړلو لپاره خپل ځان کاندید کړي که چیرته هغوی اړونده صفات ولري.

ښاغلي رئیس محمد چې یو پخوانی مجاهد دی داسې وویل: د ډاياګ د پروګرام سره د یوځای کیدو پر بنسټ، زه د یو شمیر تشویقی او قانونی مرستو مستحق شوم، او یو کالې پخوا د آب کمرې د ولسوالۍ د ولسوال په توګه وټاکل شوم.

## ډیموکراتیکه حاکمیت

یوه افغانی کورنۍ هر کالې په دولتي موسسو کې د ډاډ د نشتوالي او په عدلي سیستم کې د پراخه اداری فساد د شتون له امله ۱۶۰ ډالره د بډو په توګه ورکوي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام مرسته کوي تر څو د هیواد ځوانې او ډیموکراتیکه موسسې پیاوړې او د عامه خلکو ډاډ په ملي او محلي حکومتونو کې زیات کړي.

تر هغه ځایه چې قدرت په افغانستان کې په پراخه توګه مرکز پورې اړه لري، نو له دې امله ولایتي شوراګانې د سیمو په کچه د خلکو له خوا یوازینۍ ټاکل شوې مؤسسې دي - همدارنګه د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام د ولایت او ولسوالۍ په کچه د حکومت د ظرفیت د لوړتیا په برخه کې کار کوي ترڅو دا خبره ډاډه شي چې ټول افغانان وکړای شی چې د اصلاح شوي حاکمیت څخه ګټه واخلي.

- د اداري فساد د مخنیوي لپاره، د څارنې د لوړ پوړي دفتر په جوړولو کې مرسته کول ترڅو د اداري فساد ضد ستراتیژی په حکومت کې همغږه او وڅاري،
- د محلي او ملي حکومت د مسؤلیتونو لپاره د داسې یوچوکاټ رامنځته کول چې په هغه کې د محلی حاکمیت په اړه د افغانستان لومړنۍ پالیسی خواته لار موجود وي.
- د عدلیې په وزارت کې د بشري حقونو د مرستندویه یونت د جوړولو له لارې د بشري حقونو پوهاوی زیاتول او د ټولنې ۲۵۰۰۰۰ تنو استازو ته زده کړه ورکول.

### د ملي او محلي حاکمیت په برخه کې مهمې پروژې:

- د حساب ورکولو او شفافیت پروژه (ACT) د کانادا، دنمارک، ایتالیې، ناروی، او برطانیې د حکومتونو له خوا تمویلیږي.
- د افغانستان د محلي حاکمیت پروګرام (ASGP) د اروپایي ټولنې، د کانادا، ایتالیې، هالند، ناروی، سویتزرلند، او برطانیې د حکومتونو له خوا تمویلیږي.
- په افغانستان کې د عدالت او بشري حقونو پروژه (JHRA) د اروپایي ټولنې، د دنمارک، جرمنی، ایتالیې، او جاپان د حکومتونو له خوا تمویلیږي.
- د ملي موسسو د ودانولو پروژه (NIBP) د آسترلیا، کانادا، هندوستان، ایتالیې، جنوبی کوریا او سویتزرلند د حکومتونو له خوا تمویلیږي.

## د بیوزلۍ کمول

بیوزلي او چاپیریالیزه ټیټوالی په افغانستان کې د اوږدمهالې پرمختیا په وړاندې جدي خنډونه رامنځته کړي دي. د دغه ټکي په نظر کې نیولو سره چې د هیواد ۸۰ فیصده نفوس په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي او په کرهنیزه فعالیتونو کې بوخت دي، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د کلیو د پراختیا نوښتونو ته پراختیا ورکوي، اقتصادي فرصتونه او دوامداره معیشتونه زیاتوي. همدارنګه، مونږ د مالیې وزارت د بودجې د ریاست سره یوځای کار کوو ترڅو د اصلاح شویو عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د بودجې پلان جوړونه، تطبیق او څارنه پیاوړې کړو.

- څه نا څه د افغانستان په هره ولسوالۍ کې د ولسوالۍ د پرمختیایي شوراګانو جوړول کوم چې د محلی اوسیدونکو له خوا جوړیږي، دغه شوراګانې ټاکي چې کومې پروژې د هغوی د ټولنو لپاره ډیرې اغیزناکه دي،
- د رای ورکولو او د خپلو پروژو د اداره کولو پر بنسټ، محلی ټولنو په ۲۰۱۰م کال کې ۲۹۲ پروژې تطبیق کړي دي، چې په دغه توګه یې ۷۷۵۱۵ کاري ورځې رامنځته کړې.
- د بودجې د فورمول بندۍ او اجرااتو په هکله د ۱۵ ولایتي دفترونو ظرفیت پیاوړي کول

### د بیوزلۍ د کمولو په برخه کې مهمې پروژې:

- د افغانستان د ملی پراختیا پروګرام (ANDP)
- د بودجه جوړولو او د مرستو د کارونو پروژه (MBAW) چې د بلجیم، کانادا، دنمارک، جرمنی، جاپان، هالند، ناروی، هسپانیې او برطانیې د حکومتونو له خوا تمویلیږي.
- د ساحوي پراختیا ملی پروګرام (NABDP) چې د بلجیم، کانادا، دنمارک، جرمنی، جاپان، هالند، ناروی، هسپانیې او برطانیې د حکومتونو له خوا تمویلیږي.

د هیواد د راتلونکې لپاره د حقوقي او ټاکنیزه ظرفیتونو پراخول (ELECT) د الیکت پروژه مرسته کوي ترڅو په افغانستان کې د پارلمانی دوهمې دورې د ټولټاکنو د چمتووالي په اړه مؤسساتي ظرفیتونو ته پراختیا ورکړي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د ټاکنو دخپلواکه کمیسیون او د ټاکنیزه شکایاتو د کمیسیون غړو ته د ځینو مسائلو لکه عملیات، کرنلارې، خریداری، او لوژستیکی چارو په برخه کې زده کړه ورکړې



ده چې د دغو زده کړو پربنسټ دغو ادارو لومړنۍ ټاکنې چې په بشپړه توګه افغانی بڼه درلوده د ۲۰۱۰م کال د سپتمبر په میاشت کې اداره او ترسره کړې. همدارنګه، دغې پروژې نوي رای ورکوونکی ثبت او څه نا څه د رای ورکوونکو د راجستر ۴۰۰۰۰۰ کارتونه یې صادر کړل ترڅو زیات افغانان په ټاکنیزه پروسه کې شامل شي.

د الیکت پروژه د اروپایي ټولنې، د آسترلیا، بلجیم، کانادا، کرویشیا، دنمارک، ایستونیا، فنلند، فرانسې، جرمنی، هندوستان، آیرلند، ایتالیې، جاپان، لوګزامبورک، هالند، ناروی، جنوبی کوریا، هسپانیې ، سویډن، سویتزرلند، ترکیې، برطانیې او د امریکې د حکومتونو له خوا تمویلیږي.

## د جندر مساواتو خواته پاملرنه

د پرمختیایي، خدماتی فرصتونو او اقتصادی ګټو په برخه کې وروستیو اصلاحاتو مساوی اغیزې د افغانستان په ښځو نه درلودې. د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام په خپلو ټولو پروګرامونو کې خپله پاملرنه د جندر نوښتونو ته اړوي، داسې فرصتونه ښځو ته برابروي تر څو د سړیو په څیر ګټو ته مساوی لاسرسی ولري. مونږ کار کړی دی ترڅو د جندر حساسیت په بیلابیلو کچو کې منسجم کړو: حکومت، مدني ټولنه او عام المنفعه موسسې. د جندر لپاره یوه بیله شوې پروژه کار کوي ترڅو د جندر پوهاوی د نورو چینلونو لکه د محلی مشرانو او ملا صاحبانو له لارې پیاوړې کړي. د افغانستان په دریو کې یوه برخه ښځې د فزیکي، رواني او جنسي خشونت له امله متأثر کیږي. که څه هم وروستی قانون جوړونې د ښځو په وړاندې هر ډول خشونت نا قانونه کړی دی، خو د پالیسۍ د پراختیا او د هغه د تطبیق تر منځ د پاملرنې وړ کموالی شته، په ځانګړې توګه په محلی کچه.

د افغاني مؤسساتو سره د ګډ کار په نظر کې نیولو سره، د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د جندر د مساواتو پروژه په ۲۰۱۰م کال کې اته مرستندویه او حقوقي مرکزونه د بلخ او هرات په ولایتونو کې جوړ کړي دي ترڅو د کورني خشونت د قربانیانو لپاره حقوقی ساتنه او ملاتړبرابر کړي. دغه مرکزونه چې د یوه لایقه حقوق دان او دوه تنو اسیستانتانو له خوا اداره کیږی محلی ټولنو لپاره زده کړه برابروي او د چارواکو سره کارکوي تر څو د ښځو د حقوقو مسایل روښانه کړي.

مرستندویو او حقوقي مرکزونو د میرمن ثریا سره مرسته کړې ده، ثریا هغه څوک ده چې د خپل و ضعیت لپاره یې کومه بله چاره نه درلوده. ثریا په ۷ کلنۍ کې وپلورل شوه، او د خپل میړه او کورنۍ له خوا د څو کالو لپاره وتکول شوه، لنډه دا چې په کوڅې کې وغورځول شوه. مرستندویه او حقوقي مرکز د هغې دوسیه ثبت او رسمي شکایت یې پولیس ته وړاندې کړ او د هغې قضیه یې وڅارله تر هغه وخته پورې چې د هغې خسر او خواښې د درې کالو لپاره بندیان شول.

د جندر د مساواتو پروژه د کانادا، ایتالیې، او برطانیې د حکومتونو له خوا تمویلیږي.